# په الــــمان هـــيواد کي د افغان دښمنو ډلګيو پرغونډه

په بلجيم کښي د افغان کلتوري بهير دريـځ
۲۰۱۲/۰۱/۰۹

نن د دوزره دولسم ليږديز کال د جنوری اتمه نيټه د بلجيم هيواد د پيک په ښار کښي د افغان کلتوري بهير بيړنی غونډه جوړه شوه.
لمړی حاجي امين باوري د غونډي ګډونوالو ته ښه راغلاست ووايه او وروسته د موضوع په اړه چي د المان هيواد په برلين ښار کي د وطن دښمنو او اولس دښمنو ډلو د غونډي په اړه وه ، معلومات وړاندي کړل.

په غونډه کي د کابل د طبي پوهنتون د فارمسی د پوهنځي پخوانی استاد الحاج ډاکټر ګل افضل غونډيوال مفصلي خبري وکړی، ښاغلي غونډيوال افغانستان يو نه تجزيه کيدونکی هيواد وباله او څرګنده يی کړل چي افغانستان يو موټی دی او يو موټی به وي، دا د جنګ او جنايتونو سالاران نه شي کولای افغان اولسونه سره بيل کړي.

ورسته الحاج حنيف هوتک د افغانستان تجزيه او يا هم د سياسي سستمونو تجربی پر افغان اولس يو بل ناکام او د ستمي ډلو ناروا ګزار وباله. الحاج هوتک افغانستان له قومي او جغرافيايی پوله تشريح کړ. افغانستان يی يو داسي هيواد ياد کړ چي بيله مرکزي سياسي سستم څخه بل هيڅ سياسي سستم د افغانستان او افغانانو درد نه شي دوا کولای.

په غونډه کښي ازاد نظرونه هم واوريدل شول. غونډه د يوی دعايی په ويلو سره پای ته ورسيدل.
په پای کښي غونډي دا لاندي پريکړه ليک تصويب کړ:
لمړی – هيڅ يو وګړی او يا سياسي ډله د افغانانو پر برخليک او ژوند چي د افغانانو ملي ګټو ته زيان ورسوي، د خبرو حق نه لري.
دوهم - دا اوسنی راغلي او يا بلل شوي کسان د افغانانو استازي نه دي او نه به هم د دوی پريکړي د عمل جامه واغوندي.
دريم - افغانان تر اوسه خپل اواز نه لري، هيڅ يو بهرنی هيواد نه شي کولای دا ډلي او ډلګی د افغانانو استازي وشميري، بلکي دا ډلي د افغانانو د وينو پوروړي دی. دا بايد له همدی تالار څخه د هاګ محکمی د پنجرو شاته د افغان بيګناه اولس د وينو بهولو جواب ورکړي.
څلورم - افغان کلتوري بهير او بلجيم ميشتي افغانان د المان هيواد له چارواکو، او اولس څخه هيله کوي تر څو د المان - افغان اوږده او نيکه دوستي په داسي بيکاره او ناکامه ډلو او ټپلو ونه پلوري.
پنځم - افغان کلتوري بهير مشرتابه جرګه، غړي او بلجيم ميشتي افغانان له افغان چارواکو او سياسي منورينو څخه په درنښت هيله کوي تر څو د داسي يوې سياسي غميزي مخه ونيسي. افغان سياسي منورين بايد له نړی او نړيوالو سره د خبرو ور پرانيزي او د افغانستان داخلي واقعتونه هغسي چي دي ور وپيژني.
شپږم - موږ افغانان دا جانيان او د وينو سوداګر په نړيواله محکمه کي غواړو. د دوی غونډه غندو او په رسوا ټکو کي د المان د هيواد او هغو سياسي حلقو غندنه کوو چي داسي مجلسونه افغان دښمنو ډلو ته جوړوي.
اووم - موږ افغانان د دی مزدوري ډلي فيصلی نه منو. پای


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولـئ